# د قرغزستان پېښې

## پوښتنه

تېره جمعه د قرغزستان پارلمان د ولسمشر استعفا ومنله او هغه بېړنی حالت، چې يوه اونۍ مخکې يې په پلازمېنه بېشکېک کې اعلان کړی و، پای ته ورساوه. منبع: (www.yenisafak.com/ar/,16/10/2020) د قرغزستان په مرکز کې سخت لاريونونه وشول، لاريون کوونکو د دولتي مرکزونو کنټرول په خپل لاس کې واخيست او د ولسمشر سورانبای جينبيکوف، چې د روسيې ځانګړی کس و، د ليرې کولو غوښتنه کوله او بالاخره خپلې موخې ته هم ورسېدل. په قرغزستان کې د دغو پېښو تر شا څوک دي؟ ايا په دغه اسلامي هېواد کې د روسيې نفوذ له منځه تللی دی؟ ايا په دغه جنجالونو کې امريکا څه رول لوبوي؟ جزاک الله خير!

## ځواب

د دې لپاره چې د پوښتنې ځواب ښه روښانه شي او د قرغزستان د پېښو په هکله وپوهېږو نو لومړی بايد لاندې مسايلو ته اشاره وکړو.

## لومړی: په قرغزستان کې عمومي حالت:

۱ـ قرغزستان په مرکزي اسيا کې د نورو اسلامي هېوادونو (ازبکستان، قزاکستان او تاجکستان) په پرتله لاندې ځانګړنې لري: ياد هېواد يوازينی هېواد دی، چې د ختيځ ترکستان له خوا له چين سره ګډه پوله لري. قرغزستان له ۱۸۷٦م، راهيسې د تزاري روسيې تر اشغال لاندې و، خو په ياد هېواد کې د تزاري روسيې د اشغال پر وړاندې ډېر انقلابونه وشول او روسيې دغه انقلابونه کنټرول او چپ کړل. قرغزستان په تزاري روسيه کې يو جمهوريت شو. يعنې ياد هېواد ۱۹۷٦-۱۹۹۱ پورې په مستقيم ډول له مسکو څخه اداره کېده، تر هغه چې قرغزستان خپله خپلواکي اعلان کړه. خو بيا هم هلته داسې سياسي ګوندونه وو، چې روسيې ته وفادار وو. په همدې توګه له دغې ازادۍ څخه وروسته هم روسيې په قرغزستان باندې ډېر نفوذ درلود.

۲ـ قرغزستان له دغې خپلواکۍ وروسته هم د روسيې د کمونيستي ګوندونو د رهبرانو له خوا اداره کېده، دوی يوازې خپلې څېرې بدلې کړې او په نورو نومونو سره يې ګوندونه جوړ کړل. په مستقيم ډول د مسکو تر امر لاندې وو، خو په نوييمه لسيزه کې روسيه دلته کمزورې شوه او امريکا پخپله د دوی ځينو سياسيونو ته په دغه سيمه کې کاميابۍ ورپه برخه کړې ده. د جورج بوش د ولسمشرۍ په دوران کې، چې په ۱۹۸۰م، کې د امريکا او انګليس تر منځ د نويو ساتونکو قواوو تړون وشو او امريکا د اسلام پر وړاندې جګړه پيل کړه، د افغانستان او

عراق جګړه یې هم پیل کړه، نو په دغه وخت کې امریکا د مرکزي اسیا هېوادونو د رهبرانو او سیاسیونو په منځ کې نفوذ پیداکړ او د قرغزستان مرکز بېشکېک ته نږدې یې پوځي اډه جوړ کړه، تر څو دغه هېواد له امریکا سره د افغانستان پر وړاندې جګړه کې مرسته وکړي.

۳ـ له ۲۰۰۳م، څخه تر ۲۰۰۹م، پورې چې کله امریکا په عراق کې سخته بوخته شوه او په روسیه کې د ویلاد میرپوتین له واک ته رسېدو وروسته، د روسیې په حکومت کې هم ځینې توانایی راپیدا شوې. امریکا په ۲۰۱۴م، کې غوښتل په زور سره د ماناس له نظامي ترون څخه ـ چې په ۲۰۰۳م، کې یې امضا کړی و، د بېشکېک سره نږدې یې د همدغې ترون له مخې اډې درلودې ـ ځان بېل کړي او په قرغزستان کې بېرته د روسیې ځواکونه پیاوړي کړي. په ۲۰۱۵م، کې قرغزستان له امریکا سره دغه ترون لغوه کړ. د قرغزستان لومړي وزیر ټامیر سارییف خپل دولت ته امر وکړ، چې له امریکا سره د ۱۹۹۳م، دوه اړخیزه ترون باید لغوه کړي. دولت په یوه اعلامیه کې وویل چې نور به دغه ترون دومره اثر ونه لري. منبع: (Al-Jazeera Net, 22/7/2015) ځکه نو روسیې وکولای شول چې په پوره کامیابی سره په قرغزستان کې د امریکا نفوذ له منځه یوسي. وروسته له دې روسیې قرغزستان له ځان سره د امنیتي ګوانښونو له منځه وړلو په سازمان کې شامل کړ. دغه سازمان له ۱۹۹۲م، راوروسته د شوروي اتحاد له پاشل کېدو سره سم تاسیس شوی و. قرغزستان غوښتل چې په هر حالت کې د دغه سازمان غړیتوب ولري، ځکه چې امریکا په بېشکېک کې خپل نفوذ درلود. دغه ترون تقریباً په ۲۰۱۴م، کې د اروپایي او اسیایي هېوادونو په اقتصادي اتحادیو باندې هم عملي کړل شو.

۴ـ که په عام ډول وګورو نو د قرغزستان سیاسي ګوندونه هم د نورو هېوادونو د ګوندونو په څېر د شوروي اتحاد له پاشلو کېدو وروسته خپلواک شول او دا د دوی له سخت فساد څخه په ډاګه کېږي. د قدرت د ترلاسه کولو لپاره دوی ډېرې او تېزې هڅې وکړې، څو د امت پانګه ترلاسه کړي. دغه راز د خلکو خدمت او هغوی ته پام خیالي و، چا یې حس نه شوای کولی. خلک پرته له کوم رهبر څخه همداسې سرګردانه پاتې شول. ځکه د فساد رېښې ډېرې ژورې لاړې. د قرغزستان خلک په ۲۰۰۵م، کې په ولسمشر اکایف پسې راپورته شول او نوموړي د خپلواکی له اخیستو راهیسې دولت اداره کاوه. نونوموړي روسیې ته فرار وکړ، په ۲۰۱۰م، کې په ولسمشر باکیېف پسې قهرجن لاریونونه راووتل او ډیری قربانیانو ادعا کوله، چې له دوی سره توتریخوالی، خیانت او زیاتی کړی دی. بالاخره د ولسمشر پر وړاندې د کودتا مخه یې د امنیتي ځواکونو په زور ونیوله او نوموړی د هېواد جنوبي سیمو ته وتښتېده، وروسته له قرغزستان څخه ووانه او اټامبایېف د موقت ولسمشر په توګه کار پیل کړ.

۵ـ که څه هم په مرکزي اسیا کې روسیې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې حالات ډېر تنګ کړي وو، خو بیا هم روسیې هڅې کولې چې د خپلې خوښې حاکمان قدرت ته ورسوي. تر اوسه له دغې خپلواکۍ څخه مخکې او هم وروسته په قرغزستان کې اسلامي فکر خپور دی او حزب التحریر د اسلام د حاکمیت او د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره خلکو ته دعوت ورکاوه. که څه هم په قرغزستان کې چارواکي او حاکمیت په مستقیم ډول د روسیې تر کنټرول لاندې دی او روسیه له اسلام څخه سخت نفرت هم لري. د حزب فعالیتونه ډېر ښه روان وو، په ځانګړي ډول په جنوبي سیمو کې، چې د جغرافیې له مخې د فرغانې یوه برخه ده؛ لکه د ازبکستان ظالم حاکم او په نورو مرکزي اسیا هېوادونو کې. دوی به د حزب فعالیتونه له سختو ګواښونو سره مخ کول، خو د قرغزستان په ځینو سیمو کې اسلام تراوسه پورې هم ښه هویت لري، سربېره پردې چې د روسیې او پلویانو له خوا یې، هلته پر اسلام سخت بریدونه هم کېږي.

**دویم: په پلازمېنه بېشکېک کې وروستي ناورینونه:**

۱ـ ولسمشر سورانبای جین بیکوف، چې له ۲۰۱م، راهیسې دغه هېواد اداره کوي، د پارلمان د اکثریت رایو ترلاسه کولو لپاره یې په هېواد کې په ښه ډول بنسټیز کارونه وکړل. ځکه خو نوموړي وکولای شول، چې یو ځل بیا د ولسمشرۍ لپاره وټاکل شي. دغه ټکان ورکوونکی اعلان د ۴/۱۰/۲۰۲۰، په پارلماني ټاکنو کې نوموړي او ده ته د وفادارو او نیږدې ګوندونو لپاره یوه لویه بریا وه. له شپاړسو ګوندونو څخه یوازې څلورو یې په پارلماني ټاکنو کې ۷٪ رایې ترلاسه کړې وې. دا په دې معنا چې په پارلمان کې ۱۲۰کسانو، یاد ولسمشر او هغه کسانو ته چې په صادقو او نیږدې ګوندونو پورې یې تړاو درلود، څوکۍ ترلاسه کړې. د ټاکنو مرکزي کمیسیون له شپاړسو ګوندونو څخه دغه څلور ګوندونه ګټونکي اعلان کړل  او یاد کمیسیون بیا د دغو ۱۲ نورو ګوندونو ملاتړ هم نه کاوه، چې د پایلو اعلان د نه منلو لپاره لاریون وکړي. منبع:((Turkish Daily Sabah 6/10/2020 ). یاد پلان د دغې ۱۲نورو ګوندونو، چې پارلمان ته کامیاب نه شول، حقونه تر پښو لاندې کړل او یادو ګوندونو ویلي وو، چې د دغو ټاکنو پایلې ورته د منلو نه دي. منبع:( .TRT Arabic, 6/10/2020)

۲ـ  د سیاسي ګوندونو ملاتړ کوونکو د انتخاباتو پایلې رد کړې او سهار وختي یې د الاټو په څلور لارې او د لومړي وزیر دفتر څنګ ته لاریون پیل کړ. دوی قهرجنې چیغې وهلې او د ولسمشرۍ تر ماڼۍ ورسېدل، بالاخره د پارلمان او ولسمشرۍ ماڼۍ ودانۍ هم تر خپل کنټرول لاندې راوستلې او په زندانونو یې بریدونه وکړل، ځینې خاص بندیان یې راخوشي کړل. دوی په پلازمېنه بېشکېک کې د ملي امنیت پر ودانۍ برید وکړ او پخوانی ولسمشرـ چې د مالي فساد له کبله په ۱۱کاله زندان محکوم شوی و، راخوشې کړ. ساډیر جاپاروف هم ازاد شو او محکمې هم د نوموړي دوسیه پاکه او خلاصه کړه. جاپاروف په  ۲۰۱۳م، کې نیول شوی و، هغه یې پلازمېنه ته راوست او په لاندې مواردو یې تورن کړی وو؛ وایي چې په مرکزي سیمه کې یې پراخ لاریونونه ترتیب کړي وو،

دغه راز حکومت يې محکوماوه او پر ولسمشر يې غږ کاوه چې له دندې ګوښه شي. نوموړي په جنوبي سيمو کې د ولسمشر ځېره درلوده او په ملاتړ يې ځينې خلک راټول شوي وو، خو په دې کچه هم نه وو قهرجن چې د نوموړي د ليرې کېدو غوښتنه دې وکړي.

۳- دغو لاريونونو ټول هېواد په وېره کې واچاوه. لومړي وزير او د پارلمان وياند د ځينو سيمو د مشرانو په حيث خپل ځانونه راجستر کړل. ولسمشر جين بيکوف او امنيتي ساتونکي يې په کوڅو کې ورک شول. ولسمشر خپل بيان د انټرنټ له لارې له يوه نامعلوم ځای څخه خپور کړ او اعلان يې وکړ چې زه له امنيتي ساتونکو څخه غواړم، چې په لاريون کوونکو باندې برید ونه کړي. نوموړي خپل مخالفين په کودتا کولو او واک اخيستلو باندې متهم کړل او ويې ويل چې زه د حل يوې هوکړې ته چمتو يم. نوموړي د انتخاباتو له مرکزي کميسيون څخه وغوښتل چې بايد بې نظميو ته رسيدګي وکړي او که اړتيا شي نو بايد د ټاکنو پايلې لغوه کړي. کله چې د نوموړي پر وړاندې لاريون کوونکو زور واخيست، نو ده سياسي ګوندونو ته وويل، چې حوصله وکړي او ځوانانو ته ووايي چې تاسو بايد د قرغزستان ارزښتونو ته د قدرت له لاسته راوړلو څخه ډېره پاملرنه وکړئ. دغه راز په دغه لاره کې بايد عملي ګامونه پورته کړئ؛ نه دا چې يوازې په خبرو بسنه وکړئ. زموږ هدف په خپل هېواد کې د سولې راوستل دي. زه پوره باور لرم چې که موږ او تاسو يو ځای په ګډه سره کار وکړو، نو له دغه بحران څخه به په بريالي ډول راووځو او زياته يې کړه: زه له ځوانانو مننه کوم، چې دوی د خپل وطن پر وړاندې خپل مسووليت اداکړ. منبع: (AR Haberler.com 7/10/2020)

۴- د انتخاباتو مرکزي کميسيون هم د ټاکنو پايلې لغو کړې او د مخالفو ګوندونو د خبرو لپاره يې يو کميسيون جوړ کړ، چې بالاخره په لومړنۍ بېړنۍ جلسه کې ـچې په پلازمېنه کې نيول شوې وه ـ ساديار جاپاروف يې د لومړي وزير په توګه وټاکه. دی د مخالفينو له لوري له زندانه ازاد کړای شوی و. په بېړنۍ جلسه کې له رايې وروسته ساديار جاپاروف ته د پخواني لومړي وزير پر ځای د نوي ولسمشر په توګه اشاره وشوه، چې نوموړي مخکې له مخکې ځان راجستر کړی و. ده وويل؛ اوسنی پارلمان به تر راتلونکو پارلماني ټاکنو پورې خپلې دندې ته دوام ورکوي. نن څهار شنبه په بېړنۍ جلسه کې له ۱۲۰ کسانو څخه ۸۰کسه موجود وو، چې دوی جاپاروف ته د د دولت د مشر په توګه، رايه واچوله او تاييد شوه. وروسته جين بيکوف د ولسمشرۍ له فرمان سره سم د جاپاروف د لومړي وزير په توګه حکم لاسليک کړ. منبع: (Al-Mayadeen, 14/10/2020)

۵ـ نن د جمعې په ورځ سهار وختي د قرغزستان پارلمان د ولسمشر سورانبای جينبيکوف نوملیکنه تاييد کړه او هغه بېړنۍ خبرې يې چې يوه اوونۍ مخکې په پلازمېنه بېشکېک کې کړې وې، لغوه کړې. دواړو لومړي وزير جينبيکوف، ساديارجاپاروف او د پارلمان وياند کنات اسيېف او هغو نورو چې د ولسمشر د ثبت کېدو او بېړني حالت د لغوه کولو په جلسه کې يې ګډون کړی وو، هغو ټول له دغه تړون سره موافق وو. جينبيکوف له رايې

ورکولو مخکې د پارلمان غړو ته خپله وروستۍ وینا کړې وه، نوموړي ویلي وو: چې زما استعفا، په هېواد کې د سولې راتلو او د ټولنې د له منځه تلو د مخنیوي لپاره وه. منبع: (Yenisafak Arabic, 16/10/2020) د قرغزستان لومړي وزیر ته سادیار جاپاروف ـچې کله د ولسمشر سورانبای جینبیکوف له ثبت څخه وروسته واک ته ورسېد، تېره ورځ یې په خپلو خبرو کې وویل او ژمنه یې وکړه، چې د هېواد بهرني سیاست ته به ځانګړې پاملرنه کوي. نن جمعه جاپاروف د پارلمان مخې ته وویل: «زه د الله تعالی شکر ادا کوم چې د قدرت انتقال په سوله ییز ډول تر سره شو. زه به ډېره هڅه کوم چې په خپل بهرني سیاست او نورو مهمو پېښو او کارونو کې نېې لاسته روانې ولرم. منبع:(Sputnik, 16/10/2020)

**درېیم: په قرغزستان کې د روسیې نفوذ:**

۱ـ په قرغزستان کې د روسیې نفوذ پاشلی او پیاوړی دی. روسیې په قرغزستان کې هغه وخت پوځي اډه جوړه کړه، چې امریکا پکې خپله پوځي اډه جوړوله، نو د روسیې نفوذ ان په هغه وخت کې په قرغزستان کې و، چې امریکا وکولای شوای، خپل نفوذ هلته رامنځ ته کړي. روسیې په ۲۰۰۳م کې یوه پوځي اډه جوړه کړه. «د روسیې کانټ هوایي اډه د ۲۰۰۳م، په اکتوبر کې د قرغزستان د جمعیت امنیتي تړون سازمان د چټک پلي کولو ځواک د هوایي برخې په توګه پرانیستل شوه. د دې اصلي دندې د CSTO ځمکنیو عملیاتو هوایي پوښښ وو. د Su-25SM او Mi-8MTV پر الوتکو سمبال دي (۲۰۱۹م کال، د مارچ ۲۸مه). په همدې پنجشنبه، مسکو او بېشکېک د قرغزستان پلازمېنې ته د روسیې ولسمشر ولادیمیرپوتین د سفر پر مهال یو پروتوکول لاسلیک شو، چې په قرغزستان کې د روسیې د پوځي اډې په اړه د دواړو هېوادونو تر منځ تړون کې تعدیلات راولي. د روسیې د ولسمشر مرستیال یوري عشاکوف وویل:

«په قرغزستان کې د روسیې د پوځي اډې د موقعیت او شرایطو په اړه د ۲۰۱۲م، د هوکړه لیک په ګډون یو لړ تړونونه لاسلیک شوي دي.» دا دې هغې برخې لپاره دي، چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین وویل: «په قرغزستان کې د روسیې پوځي اډه په مرکزي اسیا کې د امنیت او ثبات لپاره مهم فکتور دی او د قرغزستان دفاعي وړتیا کې برخه اخلي.» په دې اډه کې د سکوی ـ۲۵ برید الوتکې او Mi-8 چورلکې شاملې دي...» منبع: (۲۰۱۹م، د مارچ ۲۸مه، الدستور ورځپاڼه) نو د قرغزستان ولسمشر ژینبکوف په بشپړ ډول روسیې ته وفادار دی او همغږي ورسره لري. د ټولنیز امنیت تړون او په هر څه کې چې وغواړي پیروي کوي، لکه د نظامي اډې پراختیا.

۲ـ روسیه وېره لري چې هغه مخالف ګوندونه، چې له امریکا سره اړیکې لري، په بشکېک کې به واک غصب کړي او د روسیې یوازینی نفوذ به پکې مات کړي. له دې حقیقت سربېره چې روسیه په قرغزستان کې له ډېرو

مخالفو ګوندونو سره اړیکې رامنځ ته کوي، تر څو ډاډه شي چې دوی له روسیې سره دښمني نه لري او دا چې ځینې ګوندونه روسیې ته وفادار دي او د نفوذ له ساحې څخه یې د باندې نه دي، خو بیا هم روسیه د دې مبارزې لپاره څارنه کوي. ځواک په دې هڅه کې دی چې د بهرنیو لاسوهنو د مخنیوي لپاره هڅه وکړي او امنیتي خدمات مهار کړي، تر څو په مهم وخت کې لاسوهنه وکولی شي. د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین نن چهارشنبه وویل: «مسکو د شخړې په خاطر له ټولو اړخونو سره په اړیکه کې دی او ډېر ژر ډیموکراتیک بهیر ته د بېرته راستنېدو تمه لري.» منبع: (۲۰۱۰م ، د اکتوبر ۷مه، الجزیره) هغه څه چې د روسیې وېره زیاتوي؛ هغه کله ناکله د وفادارو ځواکونو تر منځ د درنې شخړې رامنځ ته کېدل دي. لکه څرنګه چې په دوره یې ډول لیدل شوي دي، په ځانګړي ډول په دې وروستیو کې، وروسته له هغې چې ولسمشر سورون بینا زیبکوف ـ چې له ۲۰۱۷م، راهیسي پر هېواد واکمن دی ـ هڅه کوي د ټاکنو پایلو ته یې اړ کړي. هغه کولای شي د اساسي قانون د مودې له ختمېدو وروسته، ټاکنو ته ودرېږي او ښایي بیا ګډوډي رامنځ ته شي. په ځانګړې توګه که په ټاکنو کې درغلي وشي، دا د دې امکان رامنځ ته کوي، چې د امریکا پلویان ګټه ترې پورته کړي ان که دوی نسبتاً لږ هم وي، خو په دې توګه روسیه وارخطا کولای شي... .

۳ـ د روسیې اصلي دریځ د هغو ولسمشرانو په اړه دی چې روسیې ته وفادار دي. دا د روسیې دریځ دی، پرته له دې چې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره د بل چا ساتلو ته اړ نه وي، ځکه نه پرېږدي حالت له خپل کنټرول څخه بهر کړي.کرملین غواړي چې دغه هېواد د ګډوډۍ حالت تجربه کړي. د روسیې ولسمشرۍ ویاند، دیمیتري پیسکوف وویل: «روسیه مسوولیت لري، چې په قرغزستان کې د وضعیت د بشپړ سقوط مخنیوی وکړي.» منبع: (۲۰۲۰م کال، د اکتوبر ۱۰مه، الجزیره) روسیه هغه ګوندونه نه پرېږدي په بېشکېک کې د صحنې رهبري وکړي چې په قرغزستان کې پر امنیتي خدماتو کنټرول لري. دغه راز اجازه نه ورکوي، چې له امریکا او د هغوی له پلویانو سره اړیکه وساتي. ولسمشر ژینبکوف اعلان وکړ، تر هغه چې روسیه د ګټو پر اساس پرېکړه کوي، دی به استعفا ورکړي. له همدې امله روسیې په روانه اونۍ کې په کرملین دیمتري کوزک کې د ولسمشرۍ د ادارې مرستیال جین بیکوف او جیاروف د خبرو لپاره ولېږل، تر څو وضعیت له نیږدې وڅېړي... د روسیې سفارت وویل: «پرون، سه شنبه د کوزک د لیدني پر مهال د قرغزستان راتلونکي پرمختګ په تضمین کې د دولت د مشر پر لازمي رول ټینګار شوی...» منبع: (۲۰۲۰م کال، د اکتوبر ۱۴مه، المیدین) دا ټول د لازمي اقداماتو اخیستل دي. د دې احتمال شته،  چې روسیه نېغ په نېغه په پوځي برخه کې لاسوهنه وکړي، ځکه دوی په دې باور دي چې پلویان یې د معاملاتو کنټرول اداره کولای شي. قرغزستان او امنیتي ځواکونه یې تر نظر لاندې دي. دغه راز  د دې په لټه کې دي چې د ولسمشر او خپل پلویان له یو بل سره بدل کړي، ځکه چې ډېری سیاسي قواوې یې پلویان دي!

۴ـ اوس چې لاريونونه ډېر شوي، روسيې پرېکړه وکړه چې حالت ارام کړي، تر څو د قرغزستان ولسمشر د صدير جپاروف د لومړي وزير په توګه ټاکل کېدل تصويب کړي او پارلمان د ۲۰۲۰م، د اکتوبر په ۱۴مه، واک ته د هغه د بېرته راستنېدلو لپاره د هغه په ګټه رايه وکاروله. دا يې د پلويانو په لاس له زندان څخه د تازه خوشي کېدو څخه وروسته و، چې هغه له ۱۱ کلونو څخه ډېر پر بند محکوم و. الميادين راپور ورکړ: «نن چهارشنبه، له ۱۲۰ څخه تر ۸۰ ډېرو د پارلمان استازو په غير معمولي ناسته کې ګډون وکړ، چې په ترڅ کې يې د هغه وړانديز شوي حکومت سره دريځ ته د جپاروف د ټاکلو د تصويب لپاره رايه ورکړه. جين بيکوف بيا د ولسمشر په وينا د جپاروف د لومړي وزير په توګه د ولسمشر له بيان سره سم، د هغه د حکومت په توګه ټاکل کېدو فرمان لاسليک کړ...» منبع: (۲۰۲۰م کال، د اکتوبر ۱۴مه، الميادين)

۵ـ يوه اونۍ وړاندې په پلازمېنه بيشکېک کې اعلان شوی و «... نن وختي، د جمعې په ورځ، د قرغزستان پارلمان د ولسمشر سوروبي ژينبکوف استعفا منظور کړه او بېړنی حالت يې لغوه کړ..» په داسې حال چې د ولسمشر استعفا او د بېړني حالت لغوه کول، په متفقه توګه تصويب شول. دواړه د جين بيکوف او لومړي وزير صدير جپاروف په ګډون د پارلمان رييس کانات اساييف شامل وو. د رايې له مخې، جين بيکوف د پارلمان غړو ته خپله وروستۍ وينا وکړه او ويې ويل؛ چې د هغه استعفا په هېواد کې د سولې د تامين او د ټولنې د وېش د مخنيوي لپاره وه...» منبع: (۲۰۲۰م کال، د اکتوبر ١٦مه، ييني سفاک عربي)

له همدې امله د قرغزستان لومړي وزير، سيدر جپاروف، وروسته له هغه خپل واک پياوړی کړ، چې د ولسمشر سورين بينا جينبکوف له استعفا وروسته د ولسمشرۍ واک هغه ته وسپارل شو. هغه ژمنه يې وکړه چې د هېواد بهرنی سياست به وساتي. جپاروف نن جمعه، د پارلمان په مخ کې وويل: «زه د الله تعالی شکر اداکوم چې د قدرت بدلون سوله ييز و ... او زه د بهرنۍ پاليسۍ او نورو مهمو لارښوونو د خوندي ساتلو لپاره پوره هڅه کوم.» منبع: (۲۰۲۰م کال، د اکتوبر ١٦مه، سپتونيک)

**څلورم: د امريکا رول:**

۱ـ لکه څنګه چې د امريکا دريځ روښانه و، هغه څه چې په ټاکنو کې پېښ شوي د روسيې او قرغزستان چارواکو د وارخطايۍ لپاره يې کاروي. امريکا په قرغزستان کې له ټولو ښکېلو اړخونو وغوښتل چې له زغم څخه کار واخلي او يوه سوله ييزه حلاره ورته راپيداکړي. دغه راز د هغو کړنو په اړه اندېښنه څرګندوي، چې ټاکنې يې ګډوډې کړې او د لوی لاريون لامل شوې دي. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت يوه وياند خبري اژانس ته وويل: «موږ پر ټولو اړخونو غږ کوو، چې له تاوتريخوالي لاس واخلي او د ټاکنو پر سر لانجه په سوله ييزه توګه حل کړي.» دغه راز د امريکا د بهرنيو چارو وزارت اشاره وکړه: «په اروپا کې د امنيت او همکارۍ سازمان له لوري د

ځار ماموریت ملاتړ شوی دی او د رایو د پېږودلو په معتبرو معلوماتو درلودلو سره دې پایلې ته رسېدلي، چې ټولټاکنې یې ګډوډې کړې.» منبع: (۲۰۲۰م کال د اکتوبر ۷مه، د الجزیره)

دا په دې مانا ده چې په قرغزستان کې نوي شرایط ـچې د سیاسي ابهام له لوري مشخص شوي دي ـ امریکا دې ته چمتو کوي، چې دې هېواد ته د داخلېدو مناسبه فضا برابره کړي. له شک پرته چې له یو شمېر مخالفو ګوندونو سره هم اړیکې لري او پر دوی تور پورې شوی، چې د سږ کال په پیل کې د پارلماني کاندیدانو او ټولنو د ملاتړ لپاره ٦۰میلیونه ډالر لګولي دي، تر څو یې پیروان یو څه نفوذ ولري. له نورو پانګونو سربېر، د جورج سوروس بنسټ له لوري د روسیې تر نفوذ لاندې هېواد د بې ثباته کولو لپاره لګول شوې دي. د وخت کمپنۍ د وېب پاڼې په وینا دا ټولې پیسې د جین بیکوف حکومت له پوهېدو پرته لګول شوي دي.

۲ـ امریکا د قرغزستان په اپوزسیون کې پلویان لري، خو کم دي او تر ننه پورې په قرغزستان کې د روسیې نفوذ ،په له منځه وړلو کې اغیزمن نه دي واقع شوي. د واک لپاره د روس پلوو سیالي کوونکو تر منځ د هر ډول ناروااوو کارولو لپاره فعال دي، دوی به بریا ته نږدې شي. که روسیه جینبکوف ته امر ونه کړي چې وضعیت ارام کړي. روسیه هڅه کوي پر ټاکنو تر نظارت وروسته د نورو کسانو په ګومارلو کار وکړي.

**پنځم: پایله:**

۱ـ په قرغزستان کې د واک پر سر مبارزه یوه سیمه ییزه جګړه ده او د اسلامي هېوادونو د مشرانو  د سیاسي صحنې او حکومتوالۍ ذهنیت د بشپړتیا نه درلودو له امله یې دوام کړی دی. له همدې امله جګړې او جنجالونه راپورته کېږي او په اصل کې توکمیز، سیمه ییز یا قبیلوي او هر څوک خپلو ګوندونو ته وفادار دي ان که دوی عمومي نومونه هم ولري. کارپوهان په دې پوهېږي، چې دوی له قومي او سیمه تعصب څخه مخ نه اړوي. دا جګړه د دې لپاره نه ده، چې روسیه په دغه کوچنې جمهوریت کې نفوذ وکړي، بلکې روسیه د پارلماني ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته د امریکا له اړیکو وېره لري. دا وېره ده، چې کله روسیه له قرغزستان او شاوخوا سیمو ووځي، نو امریکا به هلته نفوذ پیداکړي.

۲ـ دا به په قرغزستان  او نورو ځایونو کې د دې لامل شي، چې مسلمانان په همدې حال پاتې شي. کله چې دا واکمنان واکمني کوي، نو یوازې د خپلو شخصي ګټو اندېښنه ورسره وي او امت ښکته ټېل وهي. دوی حکم ته په سپکه سترګه ګوري، دوی د امت د چارو په اړه هېڅ نظر نه لري. دغه راز دوی یې ګوماري او یا د کافر له لوري د دوی د ټاکل کېدو په اړه غلي پاتې کېږي. دا حالت به تر هغه وخت دوام وکړي، تر څو چې تر ټولو غوره ډله (امت) راپورته شي او دغه واکمنان له واک څخه لیري او په اسلامي هېوادونو کې کفري استعمار پای ته

ورسوي. د دین پر اساس اسلامي دولت (خلافت) جوړ کړي، د هغو احکامو پر اساس حکم وکړي، چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي، چې د ښه ژوند او جنت ته د رسېدو لپاره لاره هواروي. انشاءالله!

**﴿يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾**. [الصف: ١٢-١٣]

***ژباړه:*** *لله سبحانه وتعالی به ستاسو ګناهونه دروښيي او وروسته به تاسو هغو باغونو ته ننباسي چې لاندې به يې ويالې بهېږي او د ابدي استوګنې په جنتونو کې به ډېر غوره کورونه درکړي. دا ستر بریالیتوب دی، هغه بل شی (دنیوي نعمت) چې تاسو یې خوښوئ، هغه به هم درکړي؛ د الله سبحانه و تعالی له لوري مرسته او ډېر نیږدې په برخه کېدونکې بری دی او [اې پیغمبره (ص)!] مومنانو ته دغه زيری ورکړه.*

**۱۴۴۲ هـ. ق، د ربيع الاول ۱**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۱۸مه**